


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب پژندنه

---

نوم        ماته منظوره ده / لنډه کیسه

لیکوال        افتخارالله افتخار

کمپوز        ار. افتخار

ایډیټ        ار. افتخار

چاپ کال        ۲۱/۱/۲۰۲۳

انلاین https://t.me/Aftekharullah_Aftekha

په خپل نوم د خپرولو حق غیر د لیکوال نه هیڅوک نه لری..

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

**خپل ګران مشر ورور اسدالله جرار ته چې د پلار له مړینې ورسته یې زمونږ په پالنه کې هیڅ کمې رانه وست او دا یې ثابته کړه چې مشر ورور څه ته وایې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بي عدالتي د ملاتړ څرک

د ښاغلي افتخارصیب لنډه کېسه خورا خوندوره او په زړه پورې وه. تر یوه بریده یې د لنډې کیسې معیارونه پوره کړي او په کې تلوسه هم له ورایه ښکاري. په دې کېسه کې بیا د یوې کم وسې او تیر ایستل شوې نجلۍ غمناکه کیسه بیانیږي. بیا هم د غدر، چل ول، هوا او هوس، شهوت او ثروت په لومو کې بند او د ظلم، بې عدالتي او جبر په نیلي سپوریو نارینه د یوې ناخبرې، له زړه پاکې، بې وسې نجلۍ په ژوند لوبي کوي. بیا هم یو داسې څوک چې انسانان ورته د څاروي غوندې هم اهمیت نه لري، او داسې یو څوک چې د نورو په حیاء، عزت، پت، ابرو او شخصیت لوبې کول ورته جایز ښکاري د کیسې یو کرکټر دی. د کیسې اصلی کرکټر بیا هم یوه ښځه.

په دې کیسه کې چې کوم پیغامونه ماته ښکاره شو و هغه دا وو. چې نجونې باید د تلیفون کولو، تلیفون ساتلو او یا په تلیفون کې له خبرو څخه ډډه وکړي. او که داسې ونکړي نو بیا به د لکه د عاشق په څیر انسانانو لاس کې کیوزې او هغه به یې لکه مال غوندې پیرې.

۲- په ټولنه کې د یوه بیداره وجدان نشتون دی. هغه دا چې عاشق د یوې ډلې د وګړو په منځ کې ولاړ دی. او هالته بولۍ جوړوي، له څلویښت زرو څخه مخ په بره بولۍ بیولي کیږي. کټ مټ لکه د یوې لوبي د لوبغاړې بولۍ، یوه دوه کسه بیا بولۍ پورته بیایي خو هیڅوک هم عاشق ته نه وایي چې ته د کوم عرف، دود، قانون عدالت او راوج له مخې پردۍ ښځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راولي او بولۍ ته يي وړاندې کوي. بلکې څو د مړه وجدان کسان ولاړ دي. او هغوئ ننداره کوي.

۳ – يو بل پټ پيغام چې بيا يي هم د ښځو په مخ کې سر را څرګنداوه هغه دا وه چې له کوره وتلي، بې لارې خو په حقيقت کې غوليدلي نجلۍ د حتمي مرګ له ګوابښ سره مخ وه. هغې نه شوای کولای چې نوره خپل کورته لاړه شی. خو بي لارې، دورغجن او مکار نارينه نه يوازې د خپلو بې لاريو، درواغو، بديو، مکر او چلوولونو له امله د مرګ له ګواښ سره مخ نه دی بلکې په ورين تندي، په خپلو بديو اعتراف هم کوي، په لوړ اواز او جګ سر وايي، ( راشه او جينۍ دې واخله تر اوسه ورسره ما لا... ټولو وخندل) دلته ده چې په ټولنه کې بې عدالتي لمنه غوړولي، د ښځو له پاره سزا شته خو د نارينه وو له پاره نه. که چيرته عدالت وي نو بيا خو د دواړم جرم يو دی بايد دواړه د مرګ مزه وڅکي. دا چې يوازې نجلۍ مرګ ته انتظار باسي دا هم د بي عدالتيو څرک په لاس راکوي.

۴- له دې ورهاخوا بيا هم يو داسې څوک پيدا کيږ.ي چې زړه لري، خواخوږ.ې او عاطفه لري.بولۍ ته وړاندې شوې نجلۍ وپيري او له ځانه سره يي بيايي، کيسه په لاره کې د څوناندريو نه وروسته په دې خبره پای ته رسيږ.ي چې ماته منظوره ده.

په ښتنه مينه

اسدالله جلالزی/ لندن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپلې خبرې

ژوند له بلهاً پیښنو ډک دی ځینې پیښې باید په قلم رسمې شې تر څو د خلکو ښه درس ذریعه وګرځي منم ځینې به د حقیقت په دایره کې نه وې موجودې خو ورتیا د لیکوال ده هغه د خپل فکر محصول داسې راوړې چې د لوست مینوال به فکر وکړئ ګوندې واقعیت دی. په کار هم همداسې ده په همدی خاطر مې ګوتې په قلم مېښنې شوې او اکثر یې په خپل غیږ کې نیولې وې. په تیره لنډه کیسه (سپیڅلی ښځه) کې راته د مینوالو لخوا مسجونه شوې و زیاتو تشویق, مینه راکړه او ځینو یې نقد, نظر, او لارښوونه راته وکړه په دغه صف کې له دواړو څخه خاصه مننه کووم او بیا ځانګړې مننه له اسدالله جلالزی څخه کووم چې له خپل قیمتې وخت څخه یې وخت ورکه او زما په لنډه کیسه یې لیکنه وکړه یوه یادونه ضرور بولم که کیسه کې څه نیمګړتیا وی له وړاندی درڅخه ښننه غواړم تاسې په ډاډه زړه راته مسج کمنټ کولای شې د کیسې په اړه. خپل نقد او نظرونه راسره شریک کړې زه مو احسان مند یم...

ستاسې خوږ ورور

افتخارالله افتخار https://t.me/Aftekharullah_Aftekhar

ایران / کرج ۱۲/۱/۲۰۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پېل

د دلالانو په کوڅه کې شور ګډ و بره د دوهم او درېیم چت نه بی لوپټو پیغلو لاندی ننداره کوله د ځینو به په سترګو کې اوښکې ډنډ وې او د ځینو به خوله له خندا نه راټولیده لاندې کیسه په یوې نوې راوستل جینۍ جوړه وه له یو یو کس به له خولې به واوریدل شول چې عاشق بله جینۍ راوستې ده!

خو د دې په راوستل شوو جونو کې یوه خوبې دا وه چې ټولې به ښکلې وې!

یو نیم موټر به کوڅه کې تیر شو دوې به لار پرېښوده بیا به سره راټول شو جینۍ په مایوسه نظر د عاشق په سترګو کې سترګې ښخې کړی خو په عاشق یې هیڅ کوم تاثیر نه کاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سر یې د ځلوبښت زرو نه بولې روانه شوه ښکلې جینۍ د زیاتو دلالانو په وړاندې په مات زړه ولاړه وه د خپلو سترګو اوښکې یې په قابو کې نه وې هر خوا یې په تش نظر کتل د خلاصون ورسره هیڅ کومه لار نه وه د ځادر پیڅکو ته یې په خپلو موټو کې زور ورکاوه

بولې یو لاک او شل زرو ته ورسیده نور پرې بره ځوک نه ورتلل عاشق غږ پورته کړه

ـ یو لک او شل زره یو، یو لک او شل زره دوه، یو لاک او شل...

خبره یې یو کس ونیوله:

یو لاک او دیرش زره!

شور جوړ شو ټولوغږ پسې شاته وکتل د ښکلې ټوډې موټر ګیټ (دروازه) سره یو ځوان ولاړ و.

د عاشق په ځیره خندا خپره شوه بیا یې درې ځل یو لک او دیرش زره تکرار کړل خو هیڅ کس پرې نوره بره نه ورتله په ځوان یې غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه او جینۍ دې واخله تر اوسه ورسره ما لا... ټولو وخندل ځوان موټر ته کیناست رامخکې یې که

جینۍ ته یې اشاره وکړه

ـ کینه

ګیټ یې ورته خلاص کړ جینۍ ډیر زر کیناسته دلته ورته هر انسان د ځنګل وحشي ځناور نه کم نه ښکاریده فکر یې وکړ چې له ډیرو خو خلاصه شومه اوس یو ته راغلمه

ځوان پیسې وشمیرلې جینۍ عاشق ته په غوسه نظر وکتل هغې ورته وویل ورځه ورځه چې د مینې په خوند دې پوهه کړم له دې خبرۍ سره سمه جینۍ موټر ته وختله

د بره چتونو پیغلې له ننداری تاوې شوې او ځینو خپلې اوښکي پاکې کړی...

موټر د دلالانو له کوڅې ووت له ځان پسې یې دوړې تاوي کړې دلته هر څه ځکه ازاد و چې حکومت ته یې ټیکس ورکاوه او دا میدان د بولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



و که څه هم میدان نه و لویه لار د څو چتو بنګلو منځ کی وه...

په لږ وخت کې د ټولو له سترګو موټر فناء شو د جینۍ د صبر کاسه چپه شوه چې اوس به مې دا دله په چا خرڅوی راځه زړه خو پری سپک کړه ځوان خاموش و څه یې ویل خو جینۍ پری خوله راخلاصه کړه

ای بی غیرته، بی وجدانه، ته مې اوس په چا خرڅوې، که نه اول مې خپله عزت لوټوي، تاسې کې ولی د ایمان او غیرت نښه نه ښکارې! تر کومه به پردې تور سرو سره داسې د ځناورو چلند کوې، تاسې هیڅ د خدایﷻ نه ویریږئ، چې یوه پیغله جینۍ لکه د ښاروي اخلې او بیا پری خپل جیبونه ډکوي!؟ او د هغې عزت د خاورو سره خاوری کړئ تاسې هیڅ احساس نه لرې دا نو ژوند دې چې تاسې یې کوی د رزیل، بی غیرته، او د دلال زویه... موټر برابر سفر کړې و ځوان د جینۍ ټولې سپکې سپورې واوریدی خو چې د پلار نوم یې پکې تر غوږ شو بریک ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښنه یوړه موټر ودرید له ورستو خوا دوړې مخته راغلې ځوان جیب ته یې لاس که د پنځه سوو لوټ یې راوویست جینۍ ته یې ونیو ورته یې وویل:

خورې ښکته شې په دې مو ځانته ریکشه ونیسې او ځان کور ته ورسوې او یوه هیله درنه کوم ماته ښې ډیرې ښیرا، کنځلې وکړه خو خیر دې پلار مې پکې مه یادوه هغه مړ دې...

جینۍ د ځوان له خولې د خور په کلیمه اوریدلو حقه حیرانه پاتې شوه خپله ملامتیا یې حس کړه چې دې ځوان خو په ټوله لار راته یوه جمله هم ونه ویله ورسته سیټ کې رانیغه شوه

ـ نو ته په ما څه کوې ها؟

ځوان مخامخ هینداری کې وکتل سترګې یې بیرته ښکته کړی

ـ هیڅ نه غوښتل مې چې تا ستا تر کوره ورسوم

ما چې درنه د ادرس پوښتنه کوله تا شروع وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جینۍ چې د ځوان خبرو حیرانه کړې وه وې پوښتل:

نو بیا دې ولې زه د دلالانو په کوڅه کې په لوړه بیه واخیستم!؟

ـ ما لار غلطه کړې وه هلته رش جوړ و پوښتنه مې وکړه دلته څه کیسه ده چا راته وویل چې بازار ته نوې جینۍ راغلې بولې ده پرې ما ستا په سترګو کې اوښکې ولیدې په څیره کې د خلاصون لارې، په زړه دې رب ته زارې او خلکو ته دې غوسې ماته یې ستا سپیڅلتیا په ګوته کړه! او ومې غوښتل چې تا له دې بازاره ازاده کړم له پلار مې زده کړې چې له اړمنو سره مرسته کوې که څه هم تاوان وې پکې ما ځکه ښه وبلله ځکه چې له تا د پیسو ارزښت کم وه

جینۍ په خپلو سپکو سپورو ډیره په ځان غوسه وه چې ما څه وکړل رښتیا هم چې د لاس ګوټې یو شان نه وې له فکر ورسته یې خبرې بیا پیل کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ خو تا به راته ویلې و چې مرسته درسره کوم ما به ولې تاته کنځلې کولې ها؟

د ځوان نظر په سرک کې او فکر يې جينۍ ته و

ـ که تا خبرو ته پريښې وې نو ختمن مې درته ويلې ستا سپکو سپورو په ما هيڅ بد تاثير ونه کړه پلار مې راته ويلې چې ښه کوه خو په چا احسان مه کوه

جينۍ بره په کتو سره وويل

ـ ستاسې پلار دې رب تعالی په هغې دنيا خوشحاله لرې چې ستا غوندی زوې يې روزلې... بيرته يې نظر مخامخ ځوان ته که:

خو تاسې ولې له ما پوښتنه نه کوې چې زه دلته څنګه راغلي يم؟

ـ پلار مې راته ويلې د چا په شخصې ژوند کې به کار نه لرې ځکه هغې دغه لار په خپله خوښه انتخاب کړې وي خو تاسې يې بده مه اخلې مقصد مې تری دا نه وه چې ته هلته وې نوری سل او زر مسلې شته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ستا پلار ښه وايي چې ځيني خلک همداسی غلطي لارې خوښوي. پوهيږم ته له ما پوښتنه نه کوې زه به درته د هغې بازار کيسه وکړم

ځوان خاموشه شو جينۍ کيسه شروع کړه:

دغه کس چې زه يې خرڅولم ماسره يې د موبايل له لارې خبري کولې نه پوهيږم چې زما نمبر يې له کومه کړې و خو ډير مهربانه او له زړه پاک غږيده خوږ.ي خبري يې کولې په ځان يې بی له حده زياته مېينه کړمه تصويران يې هم خپل رالیږلی و له ځيري بدرنګ نه و د وخت په تيريدو يې راسره ځو پټ ملاقاتونه هم وکړل هلته يې لمس کولم لا نه. نو زما د دې دا کردار ډير خوښ شو ځکه د نورو غوندی وحشی حرکات يې نه کول ماته د نړۍ تر ټولو سپيڅلې انسان معلوميده دا چې مې رنګ ښکلې دې زمونږ اقتصادې خالت ډير ښه دې هر څه چې وغواړم اخلم او خوړلی يې شم دې راته ځان غريب معرفې کړ ويل که جرګه درولیږم پلار دې نه راکوی کيدای شې د دې خبره صحې وه! بيا ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د تیښتې په اړه وغږیده خو اوس هوښیاره شوم چې صحی نه وه. کور بی له دې هیڅ خوند نه راکاوه هر وخت او هر ځای کې به مې دا له خدایه غوښته لنډه به یې ووایم ما د خپل کور عزت او غیرت د پښو لاندې کړ قدمونه مې پرې کیښودل او له ده سره راوتښتیدمه ماسره تر هغې بازاره ډیر خوږ غږیده کله مې چې هلته خالت ولیدل سر راباندی وګرځیده ده به مې چې وکتل داسی به یې ځان ښوده لکه ما چې بیخې پیژنې نه. هلته پوی شومه چې دې ډیرې جینکۍ دی بازار ته د مینې په پلمه راوستې دي او بیا یې عزتونه تار تار شې...

ځوان تندی ته په ورغوې ټپ ورکه

ـ افففف دا د موبایل یاراني هم ډیری عجیبه وې سړی به نشې درک کولای او درباندې مېین شوم. حیران دلته یمه چې هلک به جینې لیدلې نه وې او د مینې تار به یې ورسره غزولې وي همداسې جینۍ هم. دې نړی کې اوس هم دومره احمقان شته یقین مې نشې، او پیغلو ته ګوره د مور پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروور د شل پینځه ویشتو کالو مینه د یو کال دوه یو څو میاشتو مینې لپاره هیره کړې افسوس زر ځله افسوس ښه راځه چې تر کوره دې ورسووم

بی له دې چې فکر وکړې سمدستې یې جواب ورکه

ـ امکان نه لرې وژنې مې زه کور ته نه ځم!

ځوان لږ سر شاته کوږ کړ

ـ د هغوي حق دې چې تا ووژنی ستا له وجې یې په کور، کلي، قام کې سترګې ټیټې شوې دې او تا د اسلام له قوانینو هم سرغړونه کړې راځه ادرس راکه چې ودې رسوم?

د جینې سترګو کې اوښکې راغلې

ـ خو زه له مرګه ډیره ډاریږمه نه ځمه هغوي سره به سترګي ځنګ مخ کوم دا خو بیل مرګ دې

ـ هههههها اوس دې احساس کړه ولې په هاغه وخت ونه شرمیدې چې له کوره راوتې ته به دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



همزولو جونو سره ښنګ ميلاويږ.ی پوهيږم سخته ده خو بله لار نه لرې ادرس راکه کنه؟

د جينۍ له خولې بی واکه ووتل

ـ ته ته ماسره واده وکړه له تاسره ځمه

ـ ههها ګوره خوری زما له مخکې يو واده شته دا فکر دې بدل کړه!

بيا يې ډير زر جواب ورکه

ـ خير دې خور راته مه وايه زما بن قبوله ده مشکل نه لرم خير دې ماسره واده وکړه

ځوان  لاس په اوچتولو سره وويل:

واو ستا خو قبوله ده خو چې هغه يې هم قبلوي او که نه او بله پيغله جينۍ چرته بنه خوښوې تا داسی زر غاړه کيښوده وايی اوبو اخستې ځګ ته هم لاس اچوي دا رښتيا خبره ده

جينۍ سلګو ونيوه

ـ هيله کوم ماسره بله لار نشته په خپلو کړو مې ډيره پښيمانه يمه ته راسره دا مرسته کوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان بيا خندا وخواځاوه

ـ هههههها نو ته خو مرسته نه غواړې واده غواړی

جينئ ورته لاسونه جوړه کړل

ـ ما لپاره مرسته ده او ته د واده نوم ورکه خير دې!؟

ځوان فکر وکړ چې ښځه مې منې او که نه خو زه درسره واده نه کووم ځکه کوم ګام چې تا پورته کړي د ښنلو نه دې او په اينده کې دربانـدی اعتبار هم نشته

جواب کی يې ورته وويل:

سمه ده که ښځې می راسره منله نـکاح تړم درسره او که يې نه منله نو زما يو کاکا دې غټ غټ بچې يې ګرځی خو ښځه يې نشته ډير وخته وفات شوې بيا به له هغې سره نکاح وتړی پوهيږم هغه يې سمدستې منې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جینۍ تر ډیره خاموشه وه زړه کې یې وویل چې د یوې تښتیدلې پیغلې ژوند وې همداسې هیڅ کومه بله لار نه لرمه په کرار یې سر وخوځاوه

ـ ماته منظوره ده.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



♡♡♡

خوږو خویندو ورونو دا چې مې له کیسې هدف څه وې په دی هیله چې درک کړې مو وي که غواړی له ماسره په تماس کې شې لاندی ادرسونه درکووم

ټیلګرام https://t.me/Aftekharullah_Aftekhar

واټساف https://whatsapp.com/dl/%0a%0a

فسبوک https://www.facebook.com/aftekharullah.jan

فسبوک فیج https://www.facebook.com/Aftekhar2021

په ټوله سوشل میډیا مې په لاندی نومونو پیدا کولای شی

افتخارالله افتخار _ Aftekharullha Aftekhar

(c) ketabton.com: The Digital Library





**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**